د لـوړو زده کـړو اونیزه

هفته نامه تحصیلات عالی

وزارت تحصیلات عالی
د لوړو زده کړو وزارت
Ministry of Higher Education

(۲۴۷) ګڼه - ۱۰ کال - زمری - ۱۴۰۲ هـ.ل


# د لوړو زده کړو وزارت رهبري شورا ناسته ترسره شوه

د لوړو زده کړو وزارت د رهبري شورا ناسته، د دغه وزارت سرپرست وزير شيخ الحديث مولوي نداء محمد نديم صاحب په مشرۍ تر سره شوه.
د ناستې په پيل کې د لوړو زده کړو سرپرست وزير د رهبري شورا غړي خپلو چارو ته متوجه کړل او د ياد وزارت د ټولو ادارو مسؤلينو ته يې په ورسپارل شويو چارو کې پر قاطعت او لا روڼتيا ټينګار وکړ.
دغه راز نوموړي د رهبري شورا له ټولو غړو وغوښتل چې د خلکو اصولي کارونه ژر خلاص او په چارو کې اساني ورسره وکړي.
همدارنګه د تېرو شوراګانو پرېکړو ته لنډه کتنه وشوه او د اړوندو کمېټو راپورونه واورېدل شول.
وروسته له اجنډا سره سم د شورا د غړو له لوري پر هغو معيارونو چې مؤسسه پرې پوهنتون ته ارتقاء کولی شي، په طبي رشتو کې د محصلانو د جذب لوړ حد ټاکلو، د نويو ايجاد شويو تخصصاتو د نومونو په هکله، د تحصيلي بنسټونو په علمي کنفرانسونو کې د استادانو د علمي مقالو د وړاندې کولو او په ترفيع کې يې د حسابولو په هکله بحثونه او لازمې پرېکړې وشوې.

# جلسه شورای رهبری وزارت تحصیلات عالی دایر شد

جلسه شورای رهبری وزارت تحصیلات عالی، تحت ریاست شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم صاحب سرپرست این وزارت دایر شد.
در آغاز نشست سرپرست وزارت تحصیلات عالی اعضای شورا رهبری این وزارت را به وظایف شان متوجه ساخته و در امور محوله آنان بر قاطعیت و شفافیت تاکید نمود .
سرپرست وزارت تحصیلات عالی همچنان از اعضای شورای رهبری این وزارت خواست تا کار های اصولی مراجعین را هرچه زود تر تمام نموده و در امور کاری سهولت های لازم را ایجاد نمایند.
به همین ترتیب در جلسه مرور کوتاه روی فیصله های شورای های قبلی صورت گرفته و گزارشات کمیته های موظف استماع گردید.
سپس اعضای جلسه مطابق به آجندا روی معیار های ارتقای مؤسسه به پوهنتون، افزایش جذب محصلان در رشته های طبی، بحث روی نام های تخصصات که جدیداً ایجاد گردید اند، ارایه مقالات علمی استادان در کنفرانس های علمی نهاد های تحصیلات عالی و استفاده این مقالات در ترفیعات علمی آنان، بحث و تبادل نظر صورت گرفته و در زمینه تصامیم لازم گرفته شد.

## د لوړو زده کړو سرپرست وزير د آغاخان او د FMIC روغتونونو له رئيسانو سره وکتل

د لوړو زده کړو سرپرست وزير د آغاخان او د FMIC روغتونونو له رئيسانو سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.

د لوړو زده کړو سرپرست وزير شيخ الحديث مولوي نداء محمد نديم صاحب په کراچۍ کې د آغاخان روغتون له رئيس نديم مصطفی او د FMIC روغتون له رئيس عزيزجان سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په پيل کې د لوړو زده کړو سرپرست وزير دواړو رئيسانو ته ښه راغلاست ووايه او د FMIC روغتون له همکارۍ څخه يې مننه وکړه چې افغان محصلينو ته يې د عملي زده کړو زمينه برابره کړې ده.
وروسته نوموړو ميلمنو د لانورو اکاډميکو همکاريو ژمنه وکړه او وويل چې زموږ روغتونونه د افغان محصلين د عملي زده کړو پر مخ خلاص دي او په دې برخه کې به ترخپله وسه له لوړو زده کړو وزارت سره همکاري کوو

## د لوړو زده کړو سرپرست وزير د دغه وزارت مرکزي ادارو کارکوونکو ته په ځانګړي اصلاحي مجلس کې وينا وکړه

د لوړو زده کړو سرپرست وزير د لوړو زده کړو وزارت او کابل پوهنتون کارمندانو ته په ځانګړي اصلاحي مجلس کې وينا وکړه. د لوړو زده کړو وزارت د دعوت او ارشاد رياست په همغږۍ د لوړو زده کړو سرپرست وزير شيخ الحديث مولوي نداء محمد نديم صاحب د لوړو زده کړو وزارت او کابل پوهنتون کارمندانو ته د کابل پوهنتون په تميم انصاري تالار کې د سهار له ۷:۳۰ تر ۹:۰۰ بجو پورې په اصلاحي مجلس کې وينا وکړه.
سرپرست وزير پر صبر، اطاعت، بې‌اطاعتۍ، د لمونځ ارزښت، مسؤليتونو، بيت المال، اخلاص او يو شو نورو موضوعاتو خبرې وکړې. هغه کارکونکوو ته په خطاب کې وويل چې، د مراجعينو کارونه په وخت ترسره کوئ او په کارونو کې ورسره اساني کوئ. نوموړي زياته کړه چې، تاسو ته درسپارل شوي مسؤليتونه امانتونه دي پکې خيانت مکوئ او د خپلو امرانو اطاعت کوئ ځکه چې بې‌اطاعتي نفاق رامنځته کوي.
غونډه په دعا سره پای ته ورسيده.

## سرپرست وزارت تحصیلات عالی در جلسه اصلاحی برای کارمندان پوهنتون های مرکزی اشتراک نمود

باحضور شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم صاحب سرپرست وزارت تحصیلات عالی روز دوم جلسه اصلاحی ریاست ارشاد ودعوت این وزارت برای کارمندان پوهنتون های مرکزی دایرگردید.
در آغاز جلسه شیخ شاکرالله وحدت رئیس ارشاد و دعوت وزارت تحصیلات عالی ضمن خوش آمدید به اشتراک کننده گان در مورد هدف از برگزاری این جلسه معلومات ارایه کرد.
سپس سرپرست وزارت تحصیلات عالی طی صحبت های عالمانه خویش دین مبین اسلام را نه تنها برای امت اسلام بلکه برای جهان بشریت یک نعمت بزرگ الهی عنوان نموده، در رابطه به ارزش اقامه نماز، اطاعت و فرمانبرداری ، حفاظت از بیت المال و احساس مسؤولیت در قبال انجام وظایف توصیه های لازم نمود.
موصوف همچنان در ادامه سخنان خویش کار در نظام امارت اسلامی را عبادت خوانده، تاکید نمود که در اجرای کار مراجعین سهولت ایجاد نموده، به وقت و زمان معین کار های شان را انجام بدهید.
قابل یاد آوری است که روز نخست این جلسه برای کارمندان ریاست های مرکزی وزارت تحصیلات عالی و پوهنتون کابل دیروز دایر گردیده بود.

# جلسه کمیسیون موسسات تحصیلات عالی خصوصی دایر گردید

جلسه کمیسیون موسسات تحصیلات عالی خصوصی، تحت ریاست شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی دایر گردید.
در آغاز جلسه سرپرست وزارت تحصیلات عالی برگزاری جلسات کمیسیون نهاد های تحصیلات عالی خصوصی را در راستای توسعه، حمایت و حل مشکلات نهاد های تحصیلات عالی خصوصی کشور موثر خواند.
وی اضافه نموده گفت که پالیسی وزارت تحصیلات عالی، حمایت و تطبیق اصول و مقررات اکادمیک در پرتو ارزش های دینی و ملی کشور در نهاد های تحصیلات عالی می باشد. موصوف در ادامه گفت که وزارت تحصیلات عالی با توجه به اولویت های اساسی افغانستان و امکانات موجود، در راستای حل مشکلات و رسیدگی به نیازمندی های نهاد های تحصیلی کشور به ویژه سکتور تحصیلات عالی خصوصی، از هیچ نوع حمایت و همکاری دریغ نخواهد کرد .
سپس اعضای جلسه مطابق به مواد آجندا روی موضوعات مطرح شده که شامل ایجاد دیپارتمنت های جدید، تغییر نام دیپارتمنت ها، تائید هیأت امناء شماری از نهاد های تحصیلی خصوصی و استماع گزارشات هیأت بازدید کننده این وزارت از نقل مکان و ایجاد تعمیرات جدید می گردید، بحث های همه جانبه کرده و در زمینه تصامیم لازم اتخاذ نمودند.
قابل ذکر است که اعضای کمیسیون موسسات تحصیلات عالی خصوصی شامل هیئت رهبری وزارت تحصیلات عالی، روئسای چهار پوهنتون مرکز، مشاورین وزارت تحصیلات عالی، رئیس اجرائی اتحادیه نهاد های تحصیلات عالی خصوصی و شماری از رؤسای ادارات مرکزی این وزارت می باشد.

# Higher Education Weekly

د لوړو زده کړو وزارت
وزارت تحصیلات عالی
Ministry of Higher Education
۱۳۵۶

شماره ۲۴۷ - سال دهم - اسد - ۱۴۰۲ هـ.ش


## په ماليې وزارت کې د ګمارنې په موخه د مرکزي پوهنتونونو له ۳۲۰ ممتازو فارغانو څخه ازموينه واخيستل شوه

په ماليې وزارت کې د ګمارنې په موخه د مرکزي پوهنتونونو له ۳۲۰ ممتازو فارغانو څخه ازموينه د لوړو زده کړو علمي معين په شتون کې واخيستل شوه.
په ماليې وزارت کې د مسلکي کدرونو د جذب، کار اهل کار ته د سپارلو او د يوې تلپاتې مسلکي اداري د رامنځته کولو په موخه د مرکز کابل د غوره پوهنتونونو د (۱۴۰۰ او ۱۴۰۱) هجري لمريز کلونو له (۳۲۰) تنو ممتازو فارغانو څخه ازموينه واخيستل شوه.
په يادو مراسمو کې د ماليې وزير الحاج ملا محمد ناصر اخند فارغ شويو محصلينو ته په خطاب کې وويل، چې هيواد ستاسو په څېر ممتازو او استعداد لرونکو ځوانانو ته اړتيا لري؛ تر څو د خپلې پوهې او وړتيا په مټ د هيواد د ابادۍ او پرمختګ لپاره صادقانه هڅې وکړي.
ورپسې د لوړو زده کړو وزارت علمي معين دوکتور لطف الله خيرخواه وويل، چې د ماليې وزارت په غوښتنه يې د مرکز ممتاز فارغين په دغه وزارت کې د ګمارنې په موخه معرفي کړي، چې د ازموينې له شفافې پروسې وروسته به بريالي کسان د دغه وزارت په خالي بستونو کې په دندو وګمارل شي.
دوکتور خيرخواه زياته کړه، چې دغه پروسه د هر ډول قومي، ژبني او سمتي تبعيض پرته په پوره روڼتيا سره د وړتيا اصل ته په کتو ترسره کېږي او په ماليې وزارت کې د ګمارنې يواځنۍ معيار يې د معتبرو پوهنتونونو د ممتازو محصلينو لپاره په دغه ازموينه کې برياليتوب دی.
د ازموينې ګډونوالو هم د ازموينې د رڼې پروسې له امله خوښي څرګنده کړه او د ماليې وزارت او لوړو زده کړو وزارت له رهبرۍ او مسؤلينو څخه يې مننه وکړه، چې فارغانو ته يې د دندو فرصتونه برابر کړي دي.

## وزارت مالیه کشور از نزد ۳۲۰ تن فارغ التحصیلان ممتاز پوهنتون های مرکز، جهت جذب در بست های خالی آن وزارت، امتحان رقابتی اخذ نمود

وزارت مالیه کشور در حضورداشت معین علمی وزارت تحصیلات عالی، از نزد ۳۲۰ تن فارغ التحصیلان ممتاز پوهنتون های مرکز، جهت جذب در بست های خالی آن وزارت، امتحان رقابتی اخذ نمود.
به گفته مسئولان وزارت محترم مالیه؛ به منظور جذب کادرهای مسلکی در وزارت مالیه، سپردن کار به اهل کار و ایجاد یک اداره مسلکی پایدار، از نزد (۳۲۰) تن فارغ التحصیلان ممتاز سال های ۱۴۰۰ و ۱۴۰۱ پوهنتون های مرکز امتحان رقابتی اخذ گردید.
در مراسمی که به این منظور در وزارت مالیه برگزار گردید، الحاج ملا محمد ناصر آخند وزیر مالیه در خطاب به فارغ تحصیلان شامل در امتحان گفت: « کشور ما به جوانان ممتاز و با استعداد چون شما نیاز دارد تا بر اساس دانش و توانایی خود برای آبادانی و پیشرفت کشور شان تلاش های صادقانه نمایند».
سپس دکتور لطف الله خیرخواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی صحبت نموده گفت که به درخواست وزارت محترم مالیه، فارغان ممتاز پوهنتون های مرکز جهت استخدام در بست های خالی این وزارت معرفی گردیدند که بعد از طی نمودن پروسه شفاف امتحان، افراد موفق در بست های خالی این وزارت گماشته خواهند شد.
دکتور خیرخواه افزود که این پروسه بدون هیچ گونه تبعیض قومی، زبانی و سمتی با در نظرداشت استعداد های جوانان، با شفافیت کامل انجام می شود که تنها معیار استخدام شان موفقیت محصلان ممتاز پوهنتون های برتر در این امتحان می باشد.
همچنان اشتراک کننده گان این امتحان نیز از روند شفاف امتحان ابراز خرسندی نموده، از مسئولان وزارت های مالیه و تحصیلات عالی بخاطر فراهم نمودن فرصت های کاری برای شان قدردانی نمودند.

## د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معينيت د همغږۍ ناسته وشوه

د لوړو زده کړو وزارت د مالي او اداري معينيت د همغږۍ غونډه د دغه وزارت مالي او اداري معين مولوي حافظ محمد حامد حسيب په مشرۍ ترسره شوه.
په پيل کې د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معين د دغه معينيت د همغږۍ غونډو د لا ښه تنظيم په اړه وينا وکړه او د غونډې غړو ته يې لازمې لارښوونې وکړې.
ورپسې د غونډې د معمول له مخې د تېرې غونډې پر پرېکړو لنډه کتنه وشوه او اړوندو رئيسانو خپل راپورونه وړاندې کړل.
وروسته، د اجنډا سره سم، د فارم ايډيکس او افغان ايکس پليټ فارمونو د بيا فعالولو څرنګوالي، د کادري روغتونونو سيستم چمتو کولو، د نړيوالې څېړنې او مطالعاتو شبکې سره يوځای کولو، د بدخشان پوهنتون نوي تدريسي ودانۍ ترميم، د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون په کمپيوټر ساينس پوهنځي کې د شپنې دورې د دوه پروګرامونو په پيل او د بلخ پوهنتون د اسلامي تعليماتو په پوهنځي او نورو موضوعاتو په اړه بحث او لازم تصميمونه ونيول شول.

## جلسه انسجام معینیت مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی دایر شد

جلسه انسجام معینیت مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی تحت ریاست مولوی حافظ محمد حامد حسیب معین مالی و اداری این وزارت دایر شد.
در آغاز جلسه معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی، پیرامون تنظیم بهتر برگزاری جلسات انسجام این معینیت صحبت نموده، در زمینه به اعضای جلسه هدایات لازم داد.
سپس طبق روال جلسه مرور کوتاه روی فیصله های جلسه قبلی صورت گرفته و رؤسای مربوطه در مورد گزارشات شان را ارایه نمودند.
بعداً مطابق آجندا پیرامون چگونگی فعالیت دوباره پلات فارم ایدیکس و افغان ایکس، تهیه سیستم های شفاخانه های کادری، عضویت در شبکه تحقیقاتی و تحصیلی بین المللی، تعمیر تدریسی جدید پوهنتون بدخشان، آغاز دو برنامه شبانه در پوهنځی کمپیوتر ساینس پوهنتون تعلیم و تربیه کابل و پوهنځی تعلیمات اسلامی پوهنتون بلخ و سایر موضوعات بحث و در زمینه تصامیم لازم اتخاذ گردید.

## د لوړو زده کړو وزارت د معلوماتي ټکنالوژۍ رياست له لوري مالي او حسابي رياست ته د (HEMIS) معلوماتي سيستم وسپارل شو

د لوړو زده کړو وزارت د معلوماتي ټکنالوژۍ رياست له لوري د دغه وزارت مالي او اداري معين په حضور کې مالي او حسابي رياست ته د (HEMIS) معلوماتي سيستم وسپارل شو.
په پيل کې د لوړو زده کړو وزارت د مالي او حسابي رئيس عبدالباري خپلواک د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معين صاحب ته د ياد سيستم په اړه معلومات ورکړل او د چارو د چټکتيا او منظموالي په برخه کې يې د دغه پر ګټو او اسانتياوو خبرې وکړې.
نوموړي زياته کړه چې د (HEMIS) معلوماتي سيستم له موږ سره د مالي حسابونو، بوديجې، لګښتونو، راپور ورکونې او نورو برخو په منظموالي او روڼتيا کې ډېره مرسته کولی شي.
وروسته د معلوماتي ټکنالوژۍ رياست د (MIS) امر ضياء الرحمن صافي د ياد سيستم په اړه ورکشاپ ورکړ او په دې برخه کې يې د مالي او حسابي رياست د کارکوونکو له همکارۍ څخه مننه وکړه.
په پای کې د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معين مولوي حافظ محمد حامد حسيب ياد سيستم د لوړو زده کړو وزارت د کار کوونکو لپاره ګټور وباله او د دغه وزارت د معلوماتي ټکنالوژۍ رياست تخنيکي کارکوونکو، په ځانګړې ډول د ياد سيستم جوړونکو ته يې سپارښتنه وکړه، چې د لوړو زده کړو وزارت په ټولو رياستونو او دويمي واحدونو کې د دغه سيستم د عملي کولو لپاره کار وکړي او نوموړو ته يې په دې برخه کې د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ.


### هفته نامه تحصیلات عالی

صاحب امتیاز: وزارت تحصیلات عالی
مدیر مسوول: قاری محمد سلیمان شریفی

هیأت تحریر: سید محمد محمودي، محمد اسلم اسلم و اختر محمد عبیر
خبرنگاران: کاوون رمز، محب الله امیری و احمد جاوید حکمت
محل چاپ: مطبعه ریاست نشرات وزارت تحصیلات عالی
جمع آوری مواد: محمد اسحاق معصومی

دیزاینر: هادی قدیری
مصحیح: الفت الله حلیم
تیراژ: ۱۰۰ نسخه
سال تاسیس: ۱۳۹۱ خورشیدی

شماره تماس: ۰۲۰۲۵۰۰۶۹۶
وب سایت وزارت: www.mohe.gov.af
آدرس الکترونیکی: info@mohe.gov.af

# پیشنه تاریخی و معرفی وزارت تحصیلات عالی:

## معرفی شفاخانه های کادری وزارت تحصیلات عالی

به سلسله معرفی پوهنتون ها و مؤسسات تحصیلات عالی کشو و پوهنتون طبی علوم کابل (ابو علی ابن سینا) میپردازیم به معرفی شفاخانه های کادری که تحت چتر ریاست پوهنتون علوم طبی کابل (ابو علی ابن سینا) و وزارت تحصیلات عالی قرار دارند:

۱- شفاخانه تدریسی علی آباد

شفاخانه تدریسی علی‌آباد که یکی از سابقه‌دارترین شفاخانه‌های کادری و معالجوی در سطح کشور و جهان می‌باشد، در جوزای سال ۱۳۱۰ خورشیدی مطابق با۱۹۳۱ میلادی، سنگ تهداب آن با گنجایش بیشتر از ۵۰۰ بستر، توسط محمد نادرشاه در دامنه‌ی کوه علی‌آباد گذاشته شد. پلان و اعمار این شفاخانه به عهده یکی از دوکتوران ترکی به‌نام رفقی بیگ گذاشته شد. در اخیر سال ۱۳۱۱ قسمت اول این شفاخانه به‌نام «رفقی سناتوریم» توسط نادرشاه افتتاح و به بهره‌برداری سپرده شد.

در ابتدا این شفاخانه جهت جلوگیری از مرض توبرکلوز (TB) تحت نظر دوکتور رفقی کامل بیگ شروع به فعالیت نمود. بنابر خدمات ارزنده‌ی دوکتور رفقی کامل بیگ، به‌نام رفقی سناتوریوم مسما گردید و نام او در بنای متذکره حک گردید که هنوز در پیشانی تعمیر مخروبه موجود است. هم‌چنان منار یادگاری در وسط سرک پوهنتون(مقابل دروازه ورودی پوهنتون کابل) با تاریخچه و عکس دوکتور رفقی کامل بیگ که در ذیل مشاهده می‌شود در آن حک گردیده است.

در سال ۱۳۱۲ تعمیر دوم به‌نام شفاخانه ملکی علی‌آباد که فعلاً سرویس جراحی در آن قرار دارد، افتتاح و شروع به کار نمود.

شفاخانه ملکی در دو طبقه ساخته شد: طبقه اول بخش داخله و طبقه دوم برای مریضان جراحی اختصاص داده شد. هم‌چنان در دو جناح شرقی و غربی آن، برای مریضان چشم، گوش‌وگلو با اتاق‌های عملیات ساخته شد. در بین سال‌های ۱۳۳۴ الی ۱۳۳۶ شفاخانه ملکی به‌نام نادرشاه روغتون مسما گردید. در سال ۱۳۵۷ بعد از کودتای ۷ ثور، نادرشاه روغتون به نام نیاز محمد مهمند تغییر نام داد. در ظرف چند سال اول، شعبات متعدد ساخته شد؛ مانند تعمیر برای مریضان جلدی، مریضان عقلی و عصبی و روانی، تعمیر بخش مریضان ساری، تعمیر بزرگ



اداری و ستاک برای تجهیزات طبی، لابراتوارها، اکسریز، تعمیر به‌نام سر طبابت، آشپزخانه، مسجد، اتاق‌های غذاخوری برای دوکتوران، دوبی خانه، دواخانه و سایر بخش‌های این شفاخانه دارای تعمیر گردید.

با تاسیس پوهنځی طب کابل در سال ۱۳۱۱ و ارتقای محصلان به صنوف بالاتر، شفاخانه علی‌آباد برای کارهای عملی محصلان از صنف دوم آماده گردید. محصلان طب از صنف دوم در شفاخانه علی‌آباد جهت کارهای عملی و بعداً برای ستاژ می‌آمدند. استادان و متخصصان ترک علاوه بر معالجه و تداوی مریضان در پوهنځی طب، به تدریس محصلان نیز می پرداختند. در سال ۱۳۱۷ اولین دوره فارغان به تعداد ۸ نفر و تقریباً همه ی‌شان در شفاخانه علی‌آباد در پهلوی ترک‌ها و تحت نظر آن‌ها به کار آغاز نمودند. در سال ۱۳۲۴ قرارداد با ترک‌ها ختم گردیده و در سال ۱۳۲۵ قرارداد باجانب فرانسوی‌ها امضا گردید. مطابق آن، استادان فرانسوی تدریس در پوهنځی و امور معالجوی و اداری شفاخانه علی‌آباد را به عهده گرفتند.

شفاخانه علی‌آباد و شفاخانه مستورات(میوند) و پولی‌کلینیک مرکزی واقع پل باغ عمومی، به‌نام موسسات صحی پوهنتون برای کارهای عملی و ستاژ محصلان طب اختصاص داده شد. هر شفاخانه دارای یک سر طبیب و در راس آن رییس موسسات صحی قرار داشت.

شفاخانه کادری علی‌آباد، با قدامت ۸۹ سال در عرصه‌های مختلف مسوولیت تدریس، تحقیق و عرضه خدمات صحی را در سطح کشور به عهده دارد. قابل یادآوری است که این شفاخانه در بعضی بخش‌ها مانند جراحی اعصاب، جراحی یورولوژی، عقلی و عصبی و اخیراً جراحی قلب خدمات صحی را به سطح کشور ارایه می‌نماید که امکانات عرضه این خدمات در دیگر شفاخانه‌های کشور موجود نیست. هم‌چنان از سال ۱۳۵۵ الی ۱۳۷۱ مرکز تداوی شعاعی امراض سرطانی که به کمک آژانس انرژی اتمی جهان(IAEA) فعالیت می‌نمود و دانشمندانی که در راس آن قرار داشتند، عبارت از: پوهاند دوکتور عبدالرحمن سلیم، پوهاند دوکتور ملک اصغر استادان بخش ایکولوژی(سرطان‌شناسی) پوهنځی طب کابل و پوهاند دوکتور رسول عمر استاد فزیک اتومی پوهنتون پولی تخنیک کابل بودند. در اثر جنگ‌ها وحوادث داخلی خدمات مرکز متذکره متوقف گردیده بود که به اثر تلاش‌های زیادی پوهاند دوکتور شیرین آقا ظریف رییس قبلی این پوهنتون و هیئت رهبری پوهنتون علوم طبی کابل ابوعلی ابن‌سینا خوشبختانه به کمک این آژانس مرکز جامع تشخیص و تداوی امراض سرطان دوباره در سمت شمال ساحه شفاخانه کادری علی‌آباد در سال ۱۳۹۶ خورشیدی سنگ‌تهداب آن در دو طبقه به مصرف ۲۷ میلیون دالر امریکایی که صرف ۳ میلیون دالر آن مصارف تعمیر آن می‌باشد، از جانب دولت افغانستان تمویل گردیده، متباقی تجهیزات و ترینینگ پرسونل از جانب آژانس متذکره تهیه خواهد شد، توسط دوکتور عبدالله عبدالله رییس اجراییه حکومت وحدت ملی و پوهنمل دوکتور نجیب‌الله خواجه عمری وزیر تحصیلات عالی کشور و سایر مقامات حکومتی و سازمان انرژی اتمی گذاشته شد.

قابل ذکر است که کار ساختمانی آن به شدت جریان داشته و در آینده نزیک به شکل مدرن و مجهز آماده بهره‌برداری می‌گردد. برعلاوه یک تعداد پرسونل این نهاد به کمک آژانس بین‌المللی انرژی اتمی جهان جهت ارتقای ظرفیت و فراگیری آموزش‌های لازم در زمینه به خارج از کشور اعزام گردیده‌اند.

# د تحصیلي بنسټونو د علمي کادري بستونو اعلانونه

**د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون علمي کادري بست خبرتیا !**

کابل ښوونې او روزنې پوهنتون د لومړي ځل لپاره لاندې ځانګه کې د ۱۴۴۴ هـ.ق کال لپاره د دوکتورا او ماسټرۍ په کچه علمي کادر ته اړتیا لري:

د کمپیوټر ساینس پوهنځی :

معلوماتي سیسټمونو ډیپارټمنټ (۱) بست، د نارینه وو لپاره.

داوطلبان کولای شي، چې د۱۰ /۱۴۰۲/۵ هـ.ق څخه تر۳۰ /۵ /۱۴۰۲هـ.ق پورې یاد علمي کادري بست ته د نوم لیکنې په موخه خپلې غوښتنپاڼې ډکې، د نمرو اصل ټرانسکرېپټ او د همدې اعلان کاپي دې د وزارت له وېبپاڼې څخه ترلاسه او د خپلې تذکرې له کاپي سره یوځای اړونده پوهنتون ته وسپاري.

**د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون علمي کادري بستونو خبرتیا!**

کابل ښوونې او روزنې پوهنتون د دویم او دریم ځل لپاره لاندې ځانګو کې د ۱۴۴۴ هـ.ق کال لپاره د دوکتورا او ماسټرۍ په کچه علمي کادرونو ته اړتیا لري:

د طبیعي علوم پوهنځی :

د چاپیریال ساتنې ډیپارټمنټ (۱) بست، د نارینه وو لپاره(دریم ځل).

د مسلکي او تربیتي علومو پوهنځی :

د ښوونې او روزنې عمومي ډیپارټمنټ (۱) بست، د نارینه وو لپاره(دویم ځل) داوطلبان کولای شي، چې د۱۰ /۵/ ۱۴۰۲ هـ.ق څخه تر۲۵ /۵ /۱۴۰۲هـ.ق پورې یادو علمي کادري بستونو ته د نوم لیکنې په موخه خپلې غوښتنپاڼې ډکې، د نمرو اصل ټرانسکرېپټ او د همدې اعلان کاپي دې د وزارت له وېبپاڼې څخه ترلاسه او د خپلې تذکرې له کاپي سره یوځای اړونده پوهنتون ته وسپاري.

**اعلان بست‌های کادری علمی پوهنتون بامیان !**

پوهنتون بامیان برای بار اول در سال ۱۴۴۴ هـ.ق در رشته ذیل به سویه دوکتور، ماستر و لیسانس به کادرهای علمی جدید ضرورت دارد.

پوهنځی زراعت :

دیپارتمنت حفاظه نباتات (٤) بست.

متقاضیان از تاریخ ۱۴۰۲/۵/۱۰ الی۱۴۰۲/۵/۳۰هـ.ق درخواستي شمولیت در کادر علمي خویش را ضم اصل ترانسکریپت نمرات، کاپي همین اعلان از وب سایت وزارت، و کاپي تذکره تابعیت به پوهنتون مربوطه تسلیم نمایند.

**اعلان بست های کادری علمی پوهنتون بامیان !**

پوهنتون بامیان برای بارمجدد در سال ۱۴۴۴ هـ.ق در رشته ذیل به سویه دوکتور، ماستر و لیسانس به کادر های علمی جدید ضرورت دارد.

پوهنځی علوم اجتماعی:

دیپارتمنت جامعه شناسی (۱) بست.

پوهنځی تعلیم و تربیه :

دیپارتمنت مدیریت آموزشی (۱) بست.

متقاضیان از تاریخ ۱۴۰۲/۵/۱۰ الی۱۴۰۲/۵/۲۵هـ.ق درخواستي شمولیت در کادر علمي خویش را ضم اصل ترانسکریپت نمرات، کاپي همین اعلان از وب سایت وزارت، و کاپي تذکره تابعیت به پوهنتون مربوطه تسلیم نمایند.

**د قرارداد د ورکونې تصمیم نیونې خبرتیا!**

داوطلبی شمبره:

MOHE/1402/NCB/G-24

په دې توګه د تدارکاتو قانون د (٤٣) مادې د (۲) فقرې له مخې ټولو ته خبر ورکول کیږي، چې د لوړو زده کړو وزارت په پام کې لري، چې د پنځه لاټونو په ګډون د پکتیا، پنجشیر، غور، فاریاب او سیدجمال الدین افغان تحصیلي بنسټونو لپاره د کمپیوټر جوړولو پروژې قرارداد د انجنیر احمدشاه زلمي لوژیسټیکي خدمتونو شرکت ته، چې د جواز نمبر یې (٧٤٢٨٤) دی او د وردګ ولایت، د میدان ښار مرکز کې موقعیت لري، اول لاټ د پکتیا په (٣،٦٦٥،٦٤٥) درې میلیونه او شپږسوه پنځه شپېته زره او شپږ سوه پنځه څلوېښت افغانۍ. دویم لاټ د پنجشیر په (٣،٦٠٢،٩٨٤،٥ ) درې میلیونه شپږسوه دوه زره نهه سوه څلوراتیا اعشاریه پنځه افغانۍ. دربیم لاټ د غور په (٣،٩١٦،٢٨٧،٥٠) درې میلیونه او نهه سوه شپاړس زره دوه سوه اوه اتیا اعشاریه پنځوس افغانۍ. څلورم لاټ د فاریاب په (٣،٨٢٢،٢٩٦،٦٠ ) درې میلیونه اته سوه دوه ویشت او دوه سوه شپږ نوي اعشاریه شپېته افغانۍ او پنځم لاټ د کنړ سیدجمال الدین افغان په (٣،٦٩٦،٩٧٥،٤٠ ) درې میلیونه شپږسوه شپږنوي زره او نهه سوه پنځه اویا اعشاریه څلوېښت افغانیو ورکړي.

په دې تړاو حقیقي او حکمي اشخاص که اعتراض لري، کولی شي خپل لیکلی اعتراض له دلایلو سره د اعلان د نشر نېټې څخه تر اوو (٧) کاري ورځو پورې، د تدارکاتو د ٥٠ مې مادې مطابق، د لوړو زده کړو وزارت د تدارکاتو ریاست ته چې څلورمه کارته د کابل پوهنتون څنګ کې واقع دی، وسپاري.

دا خبرتیا د تړون یا قرارد معنی نه لري، د پورته ذکر شویو وختونو تر بشپړیدو پورې او د بعدي قانوني مراحلو طی کولو پورې قرارد نه ترسره کېږي.

# سرليکنه

## په اسلامي امارت کې خدمت کول بايد عبادت وګڼل شي، نه مزدوري

تېره ورځ د لـوړو زده کـړو سرپرست وزير شيخ الحديث مولـوي نـداء محمـد نديـم صاحـب د دغـه وزارت د مرکـزي ادارو لـه مسـؤلينو او کارکوونکـو سره پـه يـوه اصلاحـي مجلس کـې د بيـت المـال پـر حفاظـت، د اميـر اطاعـت، يـووالي، لـه مراجعينـو سره نېـک چلنـد او د اسلامي امـارت د پاليسـيو پـر مراعاتـولو ټينګار وکړ.

مسلمانان همېشـه د نېکـو او روا کارونـو د تـر سره کولـو پـر مهـال لـه يـو لـړ خنډونـو سره مخ دي، چـې عبـارت لـه شـيطان، نفـسي غوښـتنې او فاسـده فضـا ده. دا هغـه خنډونـه دي چـې انسـان لـه نېکـو کارونـو راګرځـوي او منحرفاتـو تـه يـې هڅـوي. نـو يـادو خنډونـو تـه پـه کتـو مسـلمان انسـان پـه دوامـداره توګـه وعـظ او نصيحـت تـه اړتيـا لـري او د دې اړتيـا لـري چـې د يـادو خنډونـو پـر وړانـدې د مبـارزې لپـاره وروزل شي، تر څو خپل ځان له منکراتو وساتي.


مسـلمانان بايـد همېشـه خپلـو اعمالـو تـه متوجـه وي او همدارنګـه هـر مسـلمان مکلـف دی چـې خپـل بـل مسـلمان ورور امـر بالمعـروف او نهـي عـن المنکـر کـړي، ځکـه پـه ټولنـه کـې رنګارنګ فتنـې دي چـې د ځـان سـاتلو لپاره بايـد يـو بـل معروفـو تـه راوبولـو او لـه منکراتـو څخـه يـې منـع کـړو. دغـه راز اسـلام هـم پـر وعـظ او نصيحـت امـر کـړی او هغـه يـې د مؤمنانـو لپـاره رحمـت ياد کړی دی.

همدارنګـه پـه اسلامي نظام کـې کار او خدمـت کـول عبـادت دي، خـو چـې نيـت سـم وي، د بيـت المـال خيـال وسـاتل شي، خپـل مسـؤليتونه پـه سـم ډول تـرسره شي، پـه کارونـو کـې احسـان وشي، د عباداتـو خيـال وسـاتل شي او رسـمي وخـت پـه شـخصي کارونـو کـې تېـر نـه شي.

پـه اسـلامي نظـام کـې پـه نېـک نيـت او احسـان سره کار کـول لـه يـوه اړخـه د نظـام د قـوت او بقـا لامـل کېـږي، چـې زمـوږ لپـاره عبـادت دی او لـه بلـه اړخـه د حـلال رزق د ګټلـو تـر ټولـو غـوره وسيله ده.

په درناوي
اداره

# نبوي سيرت صلى الله عليه وسلم




## بحيرا راهب

کلـه چـې رسـول اکـرم (صلـی اللـه عليـه و الـه وصحبـه وسـلم) دولـس کلـن، او پـه بـل روايـت د دولسـو کلـو دوو مياشـتو او لسـو ورځـو شـو. نـو ابـو طالـب لـه ځـان سره شـام تـه د تجـارت لپـاره يـووړ. شـام تـه لاړل تـر څـو بـصری نومـې سـيمې تـه چـې پـه شـام کـې د حـوران د منطقـې يـو ښـار و، ورسـېدل. دا ښـار هغـه وخـت پـه عـربي جزيـره کـې د رومـي مسـتعمرو مرکـز و، دلتـه يـو راهـب چـې پـه بحيـرا سره مشـهور و، هـم اوسـېده، اصـلي نـوم يـې جرجيـس و کلـه چـې کاروان ور ورسـېد راهـب ورتـه راووت ټـول يـې ميلمانه کړل مخکې لدينه به هغه د چا مخې ته نه راوته.

رسـول اللـه (صلـی اللـه عليـه والـه وصحبـه وسـلم) يـې د نښـو او صفاتـو لـه مخـې وپېژانـده او پـه داسـې حـال کـې چـې د ده مبـارک لاس يـې نيولـی وويـل: دا د ټـول عـالم سيد او پيشـوا دی، اللـه تعالـی بـه دا د عالميانـو لپـاره رحمـت رالېـږي. ابـو طالـب ورڅخـه پوښـتنه وکـړه، تـه لـه کومـه پـدې موضـوع خـبر شـوې؟ راهب ورته وويل:

کلـه چـې تاسـې لـدې غونـډۍ نـه راښـکاره شـوئ، نـو ټولـې ونـې اوتيـږې پـه سـجده شـوې، ونـې او کاڼـي پـه انسـانانو کـې يـوازې نبـې تـه سـجده کـوي او همـدا راز زه يـې د نبـوت د هغـه مهـر لـه مخـې هـم پيژنـم کـوم چـې د ده د اوږې پـه لانديـنـي کرپېډونکـې بانـدې د مڼـې پـه شـکل اېښـودل شـوی دی. مونـږ پخپلـو کتابونـو کـې هـم د ده پـه هکلـه معلومـات ليـدلي او د ده صفـات مـو لوسـتلي دي، بيـا يـې لـه ابـو طالـب نـه وغوښـتل چـې بېرتـه يـې مکـې تـه بوځـي، او شـام تـه لاړ نـشي، ځکـه کېـدای شي هلتـه يهـود څـه زيـان ور ورسـوي، نـو ابـو طالـب هـم هغـه لـه خپلـو ځينـو کسانو سره بېرته مکې ته واستوو.

### د فجار جګړه

د رسـول اکـرم (صلـی اللـه عليـه و الـه وصحبـه وسـلم) پـه پنځلـس کلنـۍ کـې د فجـار جګـړه ونښـته. پـدې جګـړه کـې قريـش او کنانـه يـوې خواتـه او قيـس عيـلان بلـې خواتـه وو. د قريشـو او کنانـه مـشري د حـرب بـن اميـه پـه غـاړه وه ځکـه هغـه لـه ټولـو نـه مشر او د زيات شرف خاوند و.

د ورځـې پـه لومـړي سر کـې قيـس پـه کنـان بانـدې بـر لاسـې وه، خـو د ورځـې پـه نيمايـې برخـه کـې د جنـګ حالـت بـدل شـو او بری د کنانه په برخه شو.

دې جګـړې تـه ځکـه حـرب الفجـار وايـي چـې پـدې سره د حـرم شريـف او د حـرام د مياشـتو حرمـت تـر پښـو لانـدې شـوی و. رسـول اکـرم (صلـی اللـه عليـه و الـه وصحبـه وسـلم) هـم پـدې جګړه کې برخه درلوده، او خپلو ترونو ته به يې غشي برابرول.

### حلف الفضول

لـه دې جګـړې نـه وروسـته د ذي القعـدې پـه مياشـت کـې چـې د حـرم لـه مياشـتو څخـه ده حلـف الفضـول (د فضـول تـړون) تـرسره شـو. د دې کار اهتـمام د قريشـو ځينـو کورنيـو لکـه بنـي هاشـم، بنـو المطلـب، اسـد بـن عبدالعـزی، زهـره بـن کلاب او تيم بن مره کړی وو.

ټـول د عبداللـه بـن جدعـان التيمـي پـه کـور کـې چـې مـشر او د شرف خاونـد و، سره راغونـډ شـول او داسـې عهـد او تـړون يـې وکـړ چـې: پـه مکـه کـې بـه لـه هـر مظلـوم سره ولاړ وي، د هـر مظلـوم مرسـته بـه کـوي هغـه کـه د دې ځـای اوسـېدونکی وي او کـه د بـل ځـای او تـر هغـه بـه د مظلـوم خـوا نـه پرېـږدي ترڅـو يې له ظالم نه ورته خپل حق نه وي اخيستی.

(رسـول اکـرم صلـی اللـه عليـه والـه و صحبـه وسـلم) هـم پـدې تـړون کـې حضـور درلـود او کلـه چـې پـه رسـالت مـشرف شـو، نـو فرمايـل يـې( لقـد شـهدت في دار عبداللـه بـن جدعـان حلفـا مـا أحـب أن لي بـه حمـر النعـم، ولـو ادعـی بـه في الاسـلام الأجبت).

[ زه د عبداللـه بـن جدعـان پـه کـور کـې پـه يـوه داسـې تـړون کـې حـاضر وم، چـې د هغـه پـه بـدل کـې سره اوښـان هـم نـه خوښـوم او کـه چېرتـه اوس د اسـلام پـه دور کـې هـم ورتـه وبلـل شم، نو لبيک به ورته ووايم.]

دغـه تـړون او د تعصـب پـه اسـاس جاهـلي حميـت( غيـرت) يـو لـه بـل سره تناقـض او منافـات لـري. د دې تـړون د سـبب او علـت پـه هکلـه ويـل کېـږي، چـې د زبيـد قبيـلي يـوه سـړي مکـې تـه څـه سـامان راوړی و، چـې عـاص بـن وائـل السـهمي پـه بيـه ورنـه واخيسـت، خـو بيـا يـې د هغـه حـق ادا نکـړ، نومـوړي سـړي پـه دې هکلـه لـه ملګـرو قبيلـو لکـه عبدالـدار، مخـزوم، جمـح، سـهم او عـدي نـه مرسـته وغوښـته، خـو هېچـا هـم ورتـه توجـه ونکـړه او خـبره يـې وانـه ورېـده، نـو هغـه د ابي قبيـس غـره سر تـه وخـوت او پـه لـوړ اواز سره يـې داسـې اشـعار وويـل چـې خپل مظلوميت ته يې پکې اشاره کوله.

زبيـر بـن عبدالمطلـب دې خواتـه متوجـه شـو او ويـې ويـل دا سـړی ولـې داسـې بـې يـاره او مـددګاره دی؟ يـوې خـوا بلـې خواتـه لاړ او پـه پـای کـې مخکـې يـادې شـوې قبيلـې سره راټولـې شـوې، دا تـړون يـې لاسـليک کـړ، بيـا عـاص بـن وائـل تـه ورغلل او د زبيدي حق يې ورنه واخيست.

**د کړاوونو ژوند ... ان شاءالله بله شميره کې**